## داسرشمېرنه به دملي غميزي پيل وي



افغانستان دجګړې داور په لمبو کي سوځی،خو يوشمير په سرشمېرنه پسی پښې رالوځی کړی دي.



ليکوال: حبيب الله غمخور

د ۲۰۰۸ م کال داپريل نمه

پدي شپواو ورځو کې په افغانستان کې د سرشمېرنې په هکله خبرې اوبحثونه خوراتاوده دي داسې په نظر کي ده چې د راتلونکي ۱۳۸۷ کال د زمري په مياشت کې به سرتاسري سرشمېرنه پيل شي.
نه پوهيږو چې ښاغلی کرزي ولي تر اوسه لا دافغاني ټولنی لومړنی دندی ندي پيژندلي ؟افغانان له ښاغلی کرزی نه پوښتنه کوي ،ايادسرشمېرنې کومه عاجله اړتياشته ؟
ايانورټول کارونه موترسره کړه چي يوازي سرشمېرنه پاته شول ؟
بلې موږ سرشمېرنې ته اړتيالرو ولي دابايد هيره نشي چې دغې موخي ته رسېدولپاره ديولړنور اړينو دندوسرته رسول لازمی شرط دی. دسرشمېرنې لپاره سرتاسري سولي او امنيت ته اړتياشته ،پداسي حال کي چي همدا اوس زموږپه هيوادکي سوله دجدي ګوابښ سره مخامخ ده ،موږ ټول ئې دسر په سترګو وينوچي زموږ هيواد داورپه لمبوکي سوځی اوهر ورځ داورلمبې نوري هم تر آسمانوپورته کيږي ،تاسوخپله شوچ وکړی دناټو اوامريکاپوځی ځواکونه پداسي حال کي چي تر غاښو په مډرنو وسلو سمبال دهوايي ځواکونو تر سيوري لاندي نشي کولاي په خلاسه پښه ولسواليو اوکليوته ولاړسی اوياپې دکابل په ښار کي بېلهډار کاروان تير شي ،ځنګه داومنل سي چي دهمدغوبهرنيوتر حمايي لاندي دولت يوماموردي په يوه ليري پراته کلي کي دخلکو کورونوته ولاړشی اوهلته دي شمېرنه ترسره کړی.
نواوس دغه سرشمېرنه وبولو اوکه ديوې بلي ملي غميزي اوملي توطئې پيل.

درنو هيوادوالو !

راشئ تر هغوچې امنيت اوسوله په ټول هيواد کي نه وي تامين شوې ټول افغانان په يوه ږغ دغه ناولې هڅه شنډه اومخه يې ونيسو.

د ۲۰۰۷ م کال داکتوبر پر ۲۱ دوګړو دسر شمير نی د ملی کميټی غونډه د دغی کميټی درئيس احمد ضيا مسعود په مشری جوړه شوه. په دی غونډه کی د احصا ئيی دمرکزی اداری رئيس عبدالرحمن غفوری دوګړو د سر شمير نی ريپوټ چی دروان کال دچنګاښ په مياشت کی د هيواد د ولايتو نو په يو شمير ولسوالی کی پيل شوی وه وړا ندی کړ ده د ازمايښتی پرو ګرام تطبيقول بريالی و بلل.باختر ا ژانس

اصلا چې کله ماداخبر واوريدنودراديو له لاري مي دخلکو خبري راپياد شوي چي دوي دجمهوري رياست اوپارلماني ټاکنو حخه وړاندي څه ډول څېړنه کړې وه اودخلکوپه کوروکي څومره کسان پداسي حاک چي وه نه وه شمېرلې اوپه

لسهاو نوري قصدي غلطۍ ئې ځکه کړې وې چې زموږ په هیواد کې ملي مسله یوه حادمسله ګرځېدلې ده ،پرهغې ستر ګي پټول دځان غولولو معنا لري.دسرشمېرنې رییس صاحب وایي داخل ((۳۲)) زره ښونکی پدې کار ګمارل کیږي ،هغه وخت هم بهرنیان نه وه ګمارل شوی همدا افغانان وه مګر له دي مسلې سره ئي ددي لپاره چې په پارلمان کې دکومي سیمي څومره وکیلان وي کرکجن (متعصب ) برخودکاوه. پایله داشوه چې تر اوسه افغانان نه دملکی ویش اونه هم په پارلمان کې دوکیلانو له وندې سره قانع دي.
دبي بي سي دخبر له مخی دروان ۲۰۰۸کال دمارچ پر څلرمه د افغانستان د سرشمېرنې قانون د ولسي جرګې لخوا پاس شو. د نوي قانون له مخې به په هرو لسو کلونو کې د هېواد په کچه یو ځل سرشمېرنه کیږي.
د سر شمېرنې مساله په افغانستان کې ترینګلې مساله ده. خو افغان چارواکو د مسالې ترینګلتوب په نظر کې ندی نیولی او د تل په شان یې دا حیاتي کارهم د مصلحتونو قرباني کړیدی.داسي اوریدل کیږي چې افغان چارواکو د سر شمېرنې په کارکې د ایران څخه دمرستو ترلاسه کولو هڅه کړې ده. پداسي حال کې چې د هر هېواد سر شمېرنه د ملي رازونو څخه شمېرل کېږي ، په ځانګړې توګه دسیالو هېوادونو او یاهغوڅخه چې موږ ورسره پر ځینو مسایلو اختلاف لرو یاددوي له لاسوهنو څخه ځانونه نا ارامه احساسووباید پټ وساتل شي.
د افغان چارواکو په وینا د وګړو د کره شمېر په معلوموِلو سره به وتوانیږي چې بېلابېلې پروژې د خلکو د شمېر پر بنسټ د هیواد په مختلفو برخوکې پلې کړي. مګر پوښتنه پیدا کیږي چې داشپږکاله یو په بل پسې راپورونه ورکول کیږي چې دلته یا هلته ،پدې ولایت یا هغه ولایت او ولسوالی کې دپي آر ټي دپروګرام پر بنیاد دغه یاهغه پروژې بهربرداری یاګټې اخیستنې ته چمتو شوې ،داټولي پروژې ولې بېله سرشمیرنې پلې کیږي ؟که داپروژې ګټوري تمامي شوي وی نو اوس پدغه جګړایزحالت څه اړتیاده چې تاسو غواړي هرومروسرشمېرنه ترسره کړی ؟اوولې سرشمېرنه په هیواد کې دټولو ناخولو دحل کلي بولی ؟
د افغانستان د سرشمېرنې د مرکزي اداري رییس وایي د روان کال د زمري په میاشت کې به په ټول هیوادکې سر شمېرنه دبهرنیوهیوادود ((۲۰))میلیونوډالرو مرستوپه لګښت پیل اوترسره شي. خو ډیری خلک په اوس وخت کې د روانو امنیتو ستونزو له امله دا چاره ناشونې بولي. د افغانستان مشرانو جرګې هم د امنیتي اندېښنو له امله د هیواد په ۱۴ ولایتونو کې د سرشمېرنې د ځنډېدو غوښتنه وکړه.BBC

بلې !

دایو څرګند حقیقت دي چه د یوي ټولني د اقتصادي، ټولنیز،فرهنګی او سیاسي پیاوړتیاپه موخه دمختلفو پرو ګرامو نودپلي کېدو لپاره سر شمیرنه اړینه ده ځکه دوګړوپه هکله بېله دکره معلوماتو څخه له ستونزوسره مخامخ کیږي ،ځکه دهر کار لپاره دقیق ارکام اوشمیر ضروري خبره ده.
کله چه د هیواد سر شمیرنه بشپړ شي له هغه نه په ډاګه کیږي چه د نفوسو شمیره ئې څومره ده ،دهر ولایت هري ولسوای او هر کلي نفوس څومره دي او په هغه کښي د ښځینه او نارینه فیصدي په کومه کچه ده ، څومره لوست لیک کولای شي ،مورنۍ ژبه ،قومی اومذهبی اړیکي اوداسي نورمعلوماتونه راغونډیږي .
دغومعلوماتوته دپارلماني دټاکنوپر وخت چي دغربی نړۍ په ستندرد باندي تر سره کیږي زیاته اړتیاشته ځکه دهمدي معلوماتو له مخې پریکړه کیږي چې کومی ولسوالی ته دڅو وکیلانودټاکلو حق ورکړه شي ،اویا څو نفره مشرانوجرګي ته وټاکل سي.همدا ډول دولسمشری دټاکنوپر وخت هم اړینه ده پدې پوه شوچي دڅومره هغوکسانوڅخه چې درایي ورکولو حق ئې درلودپه ټاکنو کي برخه واخیستل ترڅودټاکنوحقوقی اوقانوني مشروعیت خوندي وساتل شي. داخوپه سیاسي اړخ کي وه په نوروا اقتصادي اوټولنیزوبرخوکښي هم دپلان دپلي کدواوجوړېدو لپاره ددغومعلوماتو لرل اړین دي.
خوحقیقت اوربښتیاخبره داده چې زموږ په هیوادکې په سرشمېرنه کښي تر ټولو مهمه اولانجمنه مسله همدا دژبې اوقومي اړیکوخبره ده یعني څوک ډیر دي .

همدا اوس یو شمیرپردې خبره باندي ټینګارکوی چې دري ژبه دغوڅ اکثریت ژبه ده او پښتانه اکثریت ندي. بل مقابل پښتانه بیاوایي چې مونږ غوڅ اکثریت یو اوزمونږ مورنۍ ژبه یعني پښتو باید رسمی او ملي ژبه وي . همدلته دا خبره راپورته کیږي ددې لپاره چي دبېځایه ملي لانجوسره نه یو مخامخ شوی دټولو اړتیا وسره باید سرشمېرنه داسي وخت ترسره شي چې دهغه لپاره ذهنی ،امنیتی اوتخنیکی شرایط برابروي. تر څوخداي مکړه دکومي ملي لانجې سره مخامخ اودپردیو دنارو امو خو قربانیان نشو.
ځکه هرڅوک چې یو په هره ژبه چې ګړیږواودهرمذهب پیروان یو بیاهم ټول یو افغان یو اوداواحو افغانستان زمونږ ګډ کوردی چي دعزت اوعفت ساتنه ئي پر مونږ ټولو فرض ده.
که یوانسان دافغانستان امنیتي حالات په ړنو سترګو وګوري پدې باوریم دابه ومنی چې اوس په رښتیا سره دسرشمېرنې وخت ندی. زما په عقیده هغه وخت چې دافغانستان جمهوررییس د ۲۰۰۶ کال کي دلندن په کنفرانس کي نړیوالي ټولني ته په ۲۰۰۸ کال کي دعمومی سرشمېرنې وعده ورکړه داوعده له وخت نه وړاندي وه. ښاغلي کرزی فکرکاوه په افغانستان کي به سوله او امنیت پیاوړی شي ،نیوالوهم وعدې ورکولې اوس هم هر ورځ وایي چې ددولت دمخالفینو جرړي باسو . خپله کرزی صاحب باید نه یوازي امنیتي ټکی په نظرکي نولی واي بلکي پدې هکله ئي هم باید فکر کړی واي چي ایا ټول افغانان ودي خبري ته اماده دي او یا اماده کیداي شي چي دسرشمېرنې مامورته دي دخپلي کورنۍ دټولو غړونومونه ووایي اویادي دامامور هغوي په خپلو سترګو ووینې اوکره معلومات دي ورکړي ؟غیرله هغه نه مثلآ همدا ښځه څوساعته وروسته دیوبل خپل کره بیول کیږي اوهلته په بل نامه ثبتیږي. یعني په ډیرو سیموکي به داوسېدونکو دوه برابره وګړی ثبت شوی وي. لدې خبري انکارنشي کیداي په همدا اړتیرو وختوکي ددې مسایلو بهترین مثالونه لرود مطبوعاتو آرشیف ته مراجعه وکړی.
پوهیږم چي ددي کارسرته رسول هم دبن په غلطو پرېکوکي شامله یوه دند ده چي باید ښاغلی کرزی ئې سرته ورسوی ،ځکه خودخپل دغه دوران دحاکمیت په وروستی کال کښي ئي دې کارته ملاوتړل ،مګر پدي باید پوه اوسو چي تر اوسه په افغانستان کي (( ۱۲ )) څله په مختلفو بڼو نیمګړي ګویا سرشمېرنې اوسروې ګاني شوي دي ،خویوه ئي هم ځکه بریالی نه وه چي دسرشمیرنې اوسروي ګانو لپاره کره شرایط برابر نه وه. که داځل پدې عجله اویوازي هغه دچاخبره دپلان سرته رسولو په موخه دمیلیونو ډالرو په بېځایه لګښت سره داکار پیل شي نه یوازي داچي پیس به عبث لګول شوی دي بلکي پدي باوریم چي ځاني تلفات به ئي هم بدرګه کړي. که دا نیمګړې اوغلطه سرشمیرنه وشي چي که ئې مخه ونه نیول شي داسي به وي ، دابه ددي ملت سره ستره جفااوپه تاریخ کي به داکسان څوک ونه بخښی.
دافغانستان دمرکزي احصائیې رییس عبدالرحمن غفوري هم امنیتی ستونزي مني ،مګر وایي چې ددوي اداره دسرشمېرنې لپار چمتوده. هغه دازادی راډیو سره په خبروکي په ډاګه وویل: دامنیتی ستونزو له منځه وړل زمونږ کارنه دی بلکي دافغانستان امنیتی ادارې په هیواد کي دټیکاوساتلو دنده لري ،هغوي دي داستو نزي حل کړي. داپدې معنا چي دسرشمېرنې رییس وایي زه اماده یم سرشمیرنه وکړم نور ستاسو کاردی ،یعنی هریو ئې پر خپل سرډنګوی .داسي څوک نشته چي دهیواد امنیتي حالاتو پر بنیاد امکانا ت وسنجوي اوپدي هکله فکر وکړي چي رښتیاهم مونږ کولاي شو یوه کره سر شمېرنه پدغو ترینګلو شرایطوکي تر سره کړو اوکنه. دسرشمېرنې رییس صاحب دازادی راډیوسره په خبروکي وویل: ددې لپاره چي کره سرشمېرنه وشي نوري لاري چاري هم په نظرکي نیول شوی دي ، داچي کومي لار چا ري دي هغه پدې هکله کوم څه ونه ویل اونه هم څوک پرې پوهېږي.
دسرشمېرنې لوي رییس صاحب سرشمېرنه دماشومانوله واکسین سره پرتله کړه وئې ویل ،هر کال ډاکتران په ټول افغانستان کي ماشومانوته واکسین پیچکاري کوي څوک څه نه ورته وایي هغه چې سرشمېرنه کوي څوک ئې څه کوي . دافسوس خبره خوداد چي له ملي مسایلو اوملي ستونزونه زمونږ دیوي مستقلي ادادرې دریيس فهم دومره دی. که داهم ومنوچي ماشومانوته ډاکتران واکسین پیچکاري کوي ، داسي فکر کیږي چې غفوري صاحب اود سرشمیرنې دملي کمېټې رییس ښاغلي احمد ضیا پدي ندی خبر چي په ټوله افغانستان کي ماشومانوته واکسین هم نه پېچکاري کیږي ،له بده مرګه دسولي دمخالیفینوله لاسه دابشري پروسه هم تر نیمګړې لانیمګړې سرته رسیږي.

زه پدي باوريم چي له يوې خوا امنيتي ستونزي اوبلې خوا داچي زموږ عوام خلک لاتر اوسه دسرشمېرني په ارزښت ندي پوه شوي اودې ته حاضر ندي چي دسرشمېرنې مامورسوالوته دي ځواب ووايي. پدې ټول ښه پوهېږي چي په هيوادکي دمخالفو وسلوالو شتون به داپروسه له خنډونوسره مخامخ کړي. داپروسه به ناکامه ،اودا کار به ددولت ملي جفا ،ستره اونه بخښونکې تيروتنه وي. دداسي غلطی اوبې ځايه سرشمېرنې پايلي به په هيوادکي ديوې بلي غميزي پيل وی.

داچې په سرشمېرنه کي کوم سوالونه شامل دي هغه ددوي کاردی ،بايد سوالونه دسرشمېرنې دنيوالو نورمو نوپه حساب برابر وي .خودامسله په افغانستان کي دااقتصادي ارزښت په پرتله اوس سياسي ارزښت لري،

له بده مرغه پدې ورستيو ځولسيزو کي په افغانستان کي دلړکيو اوډيرکيومسلې اودمشتو ورڼو قومونوتر منځ اختلاف ته زياته لمن وهل شوې ده.په يوه اوبل نامه يودبل پر خلاف تبليغات شوی په ځانګړې توګه پدې ورستيو کښې دايران اويوشمير نوروهيوادوپه هڅونه دپښتنوپر خلاف اوله هغوسره دنورو قومونوا ختلاف ته لمن وهل کيږي. داسي ډار شته چي ديولړ عينی دلايلو له مخې دايران اوايران پلوه اشخاصو اوډلوهڅه داده چې دسرشمېرنې پايلي داسي راووزي تر څوهلته پښتو ژبی لږ اودری ژبی چي دوي ئي فارسي بولي ډير وښودل شي.دغه پايله اوشمېره به په هيڅ ډول دپښتنو لپاره دمنلو وړنه وي ،همدا کاربه ددي لام شي چې له يوې خوا به دنړيوالو په ذهنيتونوکي پښتانه سرغړونکي وپيژندل شي اوله بلې خوانورو ورڼو قومونو ته به په خپلو افغان دښمنه تبليغاتو کي دا څرګنده کړی چې ګوری پښتوژبی اوپښتانه لږدي خودوي ئي دادی نه منی اوله ځان غوښتنې نه کار اخلي.

مخ کي له دېنه چي نورو ستونزو خبري وکړم زموږ دهيوادوالو ډار پدي پروسه کي دايراني اخوندانوله لاس وهنو څخه تر هر څه زيات دی.که دسرشمېرنې په مسله کي ايران نېغ په نېغه مسوليت نلري دسرشمرني دريیس له هغو خبرو څخه چي دازادی راډيوسره پر ګردی ميز کولې داسي څرګنده شول چي دسرشمېرنې په پروګرام کي دوي دايکود سازمان له غړو هيوادونه مرسته غواړي ،ايران هم دايکود سازمان غړی اوپدي پروګرام کي تر دغه نامه لاندي ددوي لپاره دهر ډول لاس وهنو امکانات برابرېږي ،اوکه رښتيا ووايم دسرشمېرنې رييس صاحب چي له کاناډانه ئي تشريف راوړی نه پوهېږو چي ولي ئې دواړي پښې په يوه بوټ کي اچوی او وايي خداي يو مالګی تروې چي سرشمېرنه به کوم. دومره خپل سری ددي لامل ګرځي فکر وشي چي ممکن ددې بې مورده دلايلو شاته دبل چالاس وي. ځکه له بدمرغه زمو ږ په هيواد کي يوازي بهرني لاسونه بازی کوي اوسياسي لوبې پر مخ بيايي.

ايران زموږ ګاونډی هيواد دی هغه په امريکا کي دافغانستان دسفير دطايب جواد په خبره ده زموږ ګاونډيان موږ خپله ندي غوره کړي،متاسفانه ايراني چارواکي په ډيره سپين سترګی سره زموږ دهيواد په اړوند دوه مخی يادرې مخی سياست چلوي.

په دې خبره کې هيڅ شک نشته چې ا يران لا د ډيرو پخوازمانو نه زموږپه خاوره کې جا سو سان درلودل او تل يې د خپلو جا سوسانو په مر سته زموږ دخلکو تر مينځ دمذ هبي اوقومي تاو تريخوالي په بر خه کې کرغېړن لاسونه پورته اوکښته کول. البته ايران هغه وخت ډير پياوړی شوکله چې ز موږ پرګران هيواد افغا نستان روسانو يرغل وکړاو زمو ږ ډير شمير هيوادوال ګا ونډيو هيوادونو او له هغې جملې ايران اوپاکستان ته په کډه کېدو مجبور شول. هغه وخت ايراني اخوندانوزموږ شعيه مذهبه ورونه پر اتو(۸) ډلو ووېشل اودهغوي په منځ کې ئې په مختلفونومونودمذهب تر شعارلاندي سياسي مذهبی تنظيمونه جوړکړل ،دخپلوڅاګرواداروله لاري ئي دهغوي روزنه پيل کړ ه. ايراني اخوندانونه يوازي داچي هغوي ئي افغانستان ته دجګړې لپاره رالېږل بلکي دايران اوعراق په جګړه کي تر ايرانی پوځيانود زياتو افغانانو ژوند قرباني شو.

دايران دو لت همدا اوس ددي لپاره چي دافغان ولس اوپه افغانستان کي دامريکا اواروپايي هيوادوسره دايران اټومی پروګرام پر سر راولاړه سوې دښمنی تر سره کړي هغوته چې د افغا نستان دحکومت پر خلاف عملاجنګيږي وسلې ورکو ي او پو ځي مر ستې ورسره کوي،همدا اوس په ايران کي دافغانانو لپاره دپوځی روزنې داسي کمپونه شته چي هلته هغوي روزل کيږي اوافغانستان ته دخرابۍ لپاره رالېږل کيږي . داير ان اخوندی دولت دا فغا نستان د

ورونوقومونو ترمينځ مذهبي اوژبني تا وتر يخوالي ته په افغانستان اوله افغانستان بيرون ديوشمير لاسپوڅوپوسيله لمنه و هي. دايران دباندنيوچارو وزير متکي دتير کال دسپتمبرپر ۹ نېټه دملګرو ملتودسازمان په ګونده کي په ډاګه وويل ځي: موږ په ايران او افغانستان کي دسپوږمکيو له لار ددوي (امريکا او پلويانو ) کړني څارو ،دوي بايد پدي پوه وی چي په همدغودواړو هيوادو کې ئي ((۲۰۰ )) زره پوځ دايراني توغنديوتر نښان لاندي دی. هغه زياته کړه په عراق او افغانستان کي زموږ استخبارات غښتلي دي ،موږ هر حه له نږدې حارو.داريانا افغانستان تلويزيون خبري پروګرام

ټول افغانان پدې ښه پوهېږي ايران په افغانستان کي دمذهبی اوفرهنګی اړيکوتر نامه لاندي څومره ناولي لوبی پر مخ بيايي.

ايران او ايران پلوه خراساني ټلواله غواړي چې د پښتنو پرضد يوه پلان شوې دسيسه پر مخ بوزی. همدا دليل وچي تر ټولو هيوادو وړاندي حاضر شو دسرشمېرنې په پروګرام کي مرسته وکړی اويادي ادادري کارمندان په خپل هيوادکي وروزي .په بهرکي ددغه شان هيوادولخوا دکدرونوروزل يوڅه اندېښني راپيدا کوي.

زه نه پوهېږم چې ولي په ايران کي يوافغان ماشوم پر مخ چي هلته ئي کورنۍ دژوند بدبختيورسولې ده دښونځيودروازي تړلي دي؟کله چي دلته په افغانستان کي دکدرونودروزلو خبره شي نوترهرچاوړاندي ايران تيار وي .ايران ته ددرې سوو((۳۰۰ )) په شاوخوا کي ځوانان ولېږل شوه تر ځودژورناليزم او اومطبوعاتو په برخوکي وروزل شی ،ددغه روزنې پايله داشوه چي اوس په ايران کي روزل شوولپاره تر دري ايرانۍ يا پهلوی فارسی دقدر وړده ،هره ورځ ملي ترمينالوژي تر پښو لاندي کوي اودايرانی اصطلاحاتودرواج ورسپارل شوې دنده سرته رسوی.

دافغانستان د سرشميرنې په کاروکښي د ايران اويابل داسي دولت څخه چي زموږسره په ډول ډولونوژبنی اومذهبي اړېکه لري اوپدي اړيکو کښي تاو تريخوالي محسوسېږي مرسته غوښتل زموږ په ګټه ندي. سرشمېرنه زموږ ملي راز دی له هغه څخه بهرنيان اوپه ځانګړې توګه رقيبو هېوادونو او يا د ايران په څېر هېوادوڅخه چې تل يې په افغانستان کې د افغاني ملي هويت او د افغانانو د اصلي شمېر او قومي جوړښت خلاف تبليغات کړيدي بايد پټ اومحرم وساتل شي.

په ټوله نړی کي دهر هيواد د احصائيې چاري ،کوډونه اوپروګرامونه ډير محرم اوملي راز شمېرل کيږي .دهغه هيواد نوري داخلي اداري هم له هغو څخه نشي خبرېداي اونه څوک حق لري ديوچاپه هکله بل چاته معلومات ورکړی. په ټوله نړی کښي که دکوم شخص دشخصی دوسيې په اړوند لاس وهنه شوې وي اويابېله قانوني جوازنه چاته معلومات ورکړه شي لوي جرم شميرل کيږي . څنګه کېداي شي موږ په بهرنيانو دهغه جملي په ايران داباور وکړو چي دوي زموږ داحصائيې په چاروکي دلاس وهلو حق ولري ؟ دټولو نړيوالو نورمونوله مخي دسرشمېرنې مامورين بايد تر کنترول لاندي وي تر څودبهرنيو څارګرواداروسره اړيکي ونلري. دمرکزی احصائيې په اداره کې داسي کسان په دندو ګمارل کيږي چي د ډير اعتماد اوباوروړوي ،سره له هغه هم تر ډير جدي کنترول لاندي وي تر څوبهرنی څارګري اداري ئې استخدام نکړی.

په افغانستان کي دسرشمېرن مسله دومره ساده خبره نده ،په شمېرنه کښې دهرډول دسيسې اوتوطئې امکانات شته. په تيرو وختوکې دمعينې طرحی له مخې په زياتو تذکروکې غلط معلوماتونه ليکل شوی دي .له بلي خوا همدا اوس زموږ اکثريت هيوادوال دسواد له نعمت نه محروم پاته دي دوي څه پوهېږي چي دسرشمېرنې مامور ددوي په فورمه کي څه ډول معلومات وليکل. پدي پوره باور لرم چی دد سرشمېرنې پايلی به دايران اويوشميرنووهيوادودغوښتنو او ارزوګانوله مخې داسي وي لکه چي همدا اوس يوشمېر په اصطلاح افغانستانيان (خراسانيان) ئې په خپلو ليکنوکښې ليکی.

هغه ((۲۰ )) ميليونه چي پر غلطه اوضدملي سرشمېرنه لګېږي ښه به داوي چي پدغوپسو يوه فابريکه جوړه شي ترڅوله يوې خوا زموږ دبيکارو شمير راکم شی اوله لې خوا دملي توليد څښتنان شو. ددې برخی پاي.